**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۹** **نېټه: ۲۷ / ۳ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

- **وبعد:** په ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټه چې ۱۴۰۱/۷/۱۳ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د عالي شورا جلسه د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة، محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب، په مشرۍ دایره شوه، چې د یاد مجلس د اجنډاء څلورمه موضوع داسې وه: ((د ټولو محکمو مفتیان صاحبان د پرېکړې د تائید یا نقض لپاره جلا فتوی ولیکي که څنګه؟ که د پرېکړې د تائید یا رد لپاره د فتوی ترتیبول اړین وي، په دې فتوی کې د تائید یا رد دلیلونه هم ولیکي که څنګه؟)) د عالي شورى محترم مقام د ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق نېټې د (۷) تصویب د څلورمې پرېکړې پر بنسټ د پورتنۍ موضوع په اړه داسې هدایت وکړ: ((د ټولو محکمو مفتیان صاحبان باید د هرې پرېکړې او د مستقلې پرېکړې د تائید یا رد په غرض فتوی ترتیب کړي؛ د پرېکړې د تائید په صورت کې د تائید دلایل او د پرېکړې د رد په صورت کې دې د رد دلایل په تفصیلي او مدلله بڼه په دې فتوی کې ولیکي او همدارنګه د مستقلې پرېکړې په صورت کې دې ، روښانه او مدلله فتوی د حنفي مذهب د راجح قول مطابق ولیکي.

همدارنګه، د پورتني مجلس پنځمه پرېکړه داسې وه: ((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست دې د سترې محکمې د مرکزي دیوانونو او د اړونده ولایتونو د ابتدائیه او استیناف محکمو لپاره د دوسیو د ارزونې او ثبت په موخه جدول په پښتو او دري ژبو کې ترتیب او په متحدالمآل شکل دې ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً، د سترې محکمې د عالي شورا د محترم مقام د پورتني تصویب څلورمه او پنځمه پرېکړه او پورتني ترتیب شوي جدولونه د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شول تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.